دغه رنګ مو تاسې غوره امت ګرځولي یاست چې پر خلکو ګواهان اوسئ

# شهادت

اونیزه

د حزب اسلامي افغانستان نشراتي ارګان

## درس قرآن

الله پاک تاسې ته امر کوي چې امانتونه خپلو خاوندانو ته وسپارئ. او چې کله مو د خلکو په مینځ کې پریکړه او حکم کاوو، نو باید په عدل او انصاف سره یې وکړئ. بیشکه الله پاک تاسې ته ډېر ښه نصیحت کوي. او الله پاک ښه اوریدونکی او ښه لیدونکي دی. (النساء: ۵۸)

## درس حدیث

از جابر (رضی الله عنه) روایت است که:

رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمود: از ظلم بپرهیزید، زیرا ظلم تاریکی های روز قیامت است. و از آزمندی بپرهیزید، زیرا آزمندی مردمی را که پیش از شما بودند، هلاک ساخت، وادار شان کرد، تا خونهای شانرا بریزند، و محارم شانرا حلال شمارند. (الحدیث)

شهادت شپږم کال، ۵ مه ګڼه، پرله پسې ۲۴۹ مه ګڼه سه شنبه ۱۳۹۳ هـ ل د غویي ۲ مه د ۱۴۳۵ هـ ق د جمادی الثانی ۲۱ مه د۲۰۱۴ م د اپریل ۲۲ مه

# د ټاکنو کمیسیون د ۴۹,۶۷ سلنه رایو قسمي پایلې اعلان کړې

## د کابو ۵۰ سلنه رایو په شمیرلو سره چې مجموعاً درې میلیونه، ۴۵۶ زره او ۹۱۰ رایې کیږي، ډاکټر عبدالله عبدالله ۴۴,۴ سلنه رایې په لاس راوړي دي او په لومړي سر کې ځای لري

کابل، رسنۍ:
د ټاکنو خپلواک کمیسیون د۶۷ ,۴۹سلنه رایو قسمي پایلې اعلان کړې. د پایلو له مخې ډاکټر عبدالله عبدالله ۴ , ۴۴ سلنه، ډاکټر اشرف غني احمدزي ۲ , ۳۳ سلنه او زلمي رسول ۴ , ۱۰ سلنه رای ګټلې دي. په دې کې پخوانی قسمي پایلې هم شاملې دي.
د افغانستان د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر محمد یوسف نورستاني، د یکشنبې په ورځ په کابل کې یوه خبري کنفرانس ته وویل لکه څرنګه چې د قسمي پایلو د لومړنیو نتایجو د اعلان پر وخت ویلي یې وو، په دې پایلو کې د بدلون راتلو امکان شته او دا نهایي پایلې نه دي. د هغه د وینا له مخې ۴۹,۶۷ سلنه پاکې رایې چې سیستم ته داخلې شوې دي، دا د هغې پایله ده. نورستاني په خپلو خبرو کې وړاندې وویل چې په دې پایلو کې پخوانی لس سلنه هم شاملې دي.
ښاغلي نورستاني زیاته کړه چې د کابو ۵۰ سلنه رایو په شمیرلو سره چې مجموعاً درې میلیونه، ۴۵۶ زره او ۹۱۰ رایې کیږي، ډاکټر عبدالله عبدالله ۴ ,۴۴ سلنه رایې... (۴ مخ)

# عربستان سعودی با پروسه صلح افغانستان کمک می کند

کابل، رسنی:
با آنکه تلاش های حکومت افغانستان در چهار سال گذشته برای حاضر کردن گروه طالبان مسلح به گفتگو های صلح نتیجه، نداده است اما وزارت خارجه این کشور می گوید عربستان سعودی تعهد هر نوع کمک با پروسه صلح افغانستان را کرده است.
شکیب مستغنی سخنگوی وزارت خارجه افغانستان به روز دوشنبه در یک نشست خبری در کابل گفت، این تعهد در دیدار ضرار احمد مقبل وزیر خارجه کشور با عبدالرحمان الغاصب سفیر عربستان سعودی صورت گرفته است.
آقای مستغنی گفت، عربستان سعودی به حیث یک کشور اسلامی می تواند در پروسه صلح افغانستان ... (ص، ۴)

محسني:

# د۶۳ مرکزونو او ۱۳ محلونو رایې باطلې اعلان شوې

کابل، رسنۍ:
د جمهوري ریاست د قسمي نتایجو د دوهم پړاو له اعلان نه یوه ورځ وروسته د انتخاباتي شکایتونو کمیسیون په یوشمیر ولایتونو کې د څینو مرکزونو او محلونو د رایو له باطلولو خبر ورکړ.
د دې کمیسیون ویاند نادر محسني د دوشنبې په ورځ په کابل کې خبریالانو ته وویل چې؛ د دوی د ولایتي کمیسیونونو له خېړنو وروسته د۶۳ مرکزونو او ۱۳ محلونو رایې باطلې اعلان شوې.
ښاغلي محسني وویل چې، په دومره وخت کې یادو کمیسیونونو په ولایتونو کې څه باندې ۱۳۰۰ شکایتي قضیې فیصله کړې.
"ولایتونو کې په ټولیز ډول ۱۳۱۱ مورده شکایتونه څېړل شوي او فیصلې ورباندې شوې، په مجموع کې د ولایاتو د شکایتو کمیسیونو... (۴ مخ)

اوکنر

# امریکا روی تعلیق همکاری با روسیه در مورد افغانستان غور نمی کند

ایالات متحده می خواهد به طور متداوم با کشور های منطقه به هدف پیشرفت و انکشاف این کشور ها با توجه به علایق و خواست آنها کار نماید

امریکا، رسانه ها:
یک دیلومات ارشد امریکا می گوید که ایالات متحده روی امکان تعلیق همکاری با روسیه در باره ی افغانستان غور نمی کند.
ایلین اوکنر معاون وزارت خارجه امریکا در امور کشور های آسیای مرکزی و جنوبی با ابراز این مطلب گفت که همکاری امریکا و روسیه نشان می دهد که هر دو طرف با دیگر کشور های ذیدخل در منطقه کار های ارزنده را به پیش می برند.
این مقام وزارت خارجه ایالات متحده علاوه کرد که امریکا و روسیه صرف در راستای فعالیت... (ص، ۴)

# نتایج انتخابات بکدام سو برده میشود؟

فدامحمد فایض

می پذیریم که کشور ما فقیر است و جنگ زده است. وسایل پیشرفته در اختیار ندارد بناءً این عقبماندگی بر هر بخش زندگی ما اثر گذار است؛ از جمله بر شمارش آرای انتخاباتی. ممکن همین مشکلات سبب شود که بعضاً تخلفات و کاستی در روند شمارش آرا بمیان آید؛ ولی این مشکلاتی که فراراه کمیسیون انتخابات قرار دارد باید تا این حد زمانگیر هم نباشد؛ زیرا مردم بشدت منتظر اعلان نتایج عادلانهٔ انتخاب اند. انتخابات بتاریخ ۱۶ حمل انجام یافت و امروز که دوم ماه ثور است هنوز طبق وعده دو روز دیگر هم باقي مانده است که نتایج ابتدایي انتخابات اعلان شود و باز بیست روز دیگر باید انتظار کشید که نتایج نهایی اعلان شود و اگر فرضا انتخابات به دور دوم کشانده شود باز هم یک دورهٔ انتظار طولانی باقي خواهد بود تا انتخابات صورت گیرد و باز در آن صدای تخلف و تقلب از هر سو بلند شود و باز آرا ارزیابی شود تا بالاخره نتایج ابتدایی و نهایی اعلان شود. فکر میکنم اگر از یک سو این روند خسته کننده باعث بی علاقه گی مردم با انتخابات میشود از سوی دیگر بر تجارت و داد و ستد و خیلي از مسایل مربوط به زندگی عادی مردم اثرات منفی خود را گذاشته است چنانچه بتاریخ ۳۱ / ۱ / ۱۳۹۳ تعدادی از تجار افغان درین رابطه صدای اعتراض خود را بلند کردند و ضمناً از رئیس جمهور آیندهٔ کشور خواستند تا به وضعیت آنان توجه صورت گیرد. چون در یک سال گذشته در حدود صد نفر تاجر افغان اختطاف شده اند که بعضي در برابر پول رها شده اند و بعضی حتی کشته شده اند... (ص، ۳)

ستانکزی

# آغاجان معتصم نظر بند نه بلکې خوندي ځای ته انتقال شوی وو

آغاجان معتصم د طالبانو د وخت د مالیې وزیر او په وروستیو کې په کویټه کې د طالبانو د سیاسي کمیټې مشر و؛ خو په کویټه کې له تیې کېدو وروسته د درملنې لپاره ترکیې ته انتقال شو او په دې وروستیو کې له افغان حکومت سره د سولې خبرې پیل کړې وې

کابل، رسنۍ:
که څه هم تراوسه په دقیقه توګه د آغاجان معتصم د اوسیدو ځای معلوم نه دی؛ خو د سولې عالي شورا وایي، ډېر ژر به له نوموړي سره په تماس کې شي او د سولې د ټینګښت په اړه به ورسره خبرې وکړي.
د دې شورا د دارالانشا مشر معصوم ستانکزی وایي؛ چې آغاجان معتصم اوس ازاد دی او کولای شي چې، د سولې په بهیر کې رغنده رول ولوبوي.
که څه هم طالبانو له دې وړاندې ویلي، چې معتصم د سولې په خبرو کې د دوی استازیتوب نه کوي؛ خو معصوم ستانکزي د دوشنبې په ورځ ازادي راډیو ته وویل؛ چې معتصم په تېرو غونډو کې د طالبانو د مشر په استازیتوب خبرې کړې.
"ما د ده په بیانو کې هیڅ وخت نه دي اوریدلي چې؛ ... (۴ مخ)

د لوی او مهربان خدای په سپېڅلي نامه

# ائتلافي حکومت د هېواد د ستونزو حل نه دی

د حمل په شپاړسمه نېټه چې خلکو په کومه علاقه مندی سره په انتخاباتو ګډون وکړ موږ ته خو لا څه چې نړیوالو ته یوه حیرانوونکې خبره وه، له همدې لامله دی انتخاباتو ته د یوه جشن لقب ورکړل شو. که څه هم لا د نیمايي نه د یو څه زیاتو رایو نتایج نه دي اعلان شوي او ملت هره شیبه ورته سترګې پر لار دی؛ خو له دې اخوا او اخوا نه د ائتلافي حکومت خبرې کېږي. دا خبری هم کېږي چې پلاني نوماند د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم له مشر سره وکتل او په راتلونکې کې د یوه ائتلافي حکومت په اړه خبرې شوي.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم دغه ډول اوازې چې زیاتره د خاصو کړیو له خوا زمزمه کېږي په ډېر قوت سره ردوي. د اصلاحاتو او همپالنې ټیم:

یو خو پر خپلو هغو اکثریت رایو باوري دی چې ملت ورکړې او اعتماد یې پرې کړی.

او دوهم دا چې تېرو تجربو ته په کتو ائتلافي حکومت د هېواد د ستونزو د حل له پاره اغیزمن نه بولي.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم پر دې باور دی چې که له رایو سره یې ناعادلانه چلند ونه شي ان شاء الله انتخابات به په لومړی پړاو کې ګټي او که فرضاً د رایو د عادلانه شمېر په نتیجه کې انتخاب دوهم پړاو ته ځي بیا هم دې ته چمتو دی چې په انتخاباتو کې برخه واخلي او د انتخاباتو مشروع نتیجه ومني؛ خو دې ته نه دی چمتو چې د اقتدار په خاطر د خلکو رایې هېرې کړي او د خلکو هیلې او ارمانونه هېر کړي.

البته د انتخاباتو د ګټلو معنا دا نه ده چې که یو ټیم انتخابات وګټي یوازې همدا ګټونکی ټیم به په دولت کې وي او نور ټول به رخصتوي؛ نه بلکې هدف دا دی چې د اقتدار واګې په شلو لاسونو کې نه وي لویدلې چې یو یې یوې خواته راکاږي او بل یې بل خواته چې په نتیجه کې یو قاطع او ګټور تصمیم نه شي نیول کیدای. زموږ په تیرو انتخاباتو کې هر انتخاباتي ټیم یو شعار درلود او هر ټیم له ولس سره یو لړ ژمنې وکړې، ښایي په دې ژمنو کې ځینې مشترک ټکي هم ومومو چې هغه د اصلاحاتو او یوه مثبت بدلون ټکي دي؛ خو ډېرې ژمنې داسې هم وې چې په همغه یو ټیم پورې مربوطې وې.

د ائتلافي حکومت اوازې زیاتره هغه لورې خپروي چې د انتخاباتو په هنداره کې خپل تصویر ورته ډېر تت ښکاري او په دې توګه غواړي د ائتلاف له برکته ځان په واک کې شریک کړي؛ خو د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د هېواد تیرو دیارلس کلنو تجربو ته په کتو سره ائتلافي حکومت د ترخې ماضي یو تریخ تکرار بولي چې د هېواد د ښیرازۍ او پر خپلو پښو د ودرولو په لار کې څه ترینه نه جوړېږي.

د اصلاحاتو او همپالنې ټیم د هېواد هر بچی خپل مټ او بازو ګڼي او ټولو روا، شرعي او قانوني حقوقو ته یې پوره درناوی لري. دا ټیم پر دې باور دی چې دا جنګ ځپلی او وروسته پاتې هېواد د ولس د ټولو غړو په ګډه او صادقانه همکاری سره جوړیدلای شي؛ خو ائتلافي حکومت په سیاسي فرهنګ کې یو ځانګړی تعریف لري هغه کسان یا ډلې چې له فکري پلوه هماهنګي سره نه لري، ګډ هدف او ګډ ارمان نه لري او ګډه تګلاره او تګلوری نه لري، دهغوی ترمنځ به ستونزې راولاړېږي، بیا به مصلحتونه د حقیقتونو پر خوله برغولی ږدي او له هېواد او هېوادنیو مسایلو نه به د وزلوبې خوسې جوړوي او هر څوک به یې ځان ته راکاږي.

# پره د چا پر غاړه ده؟!

نصرالله

هغه بله ورځ د افغانستان ولسمشرۍ ته کاندید ښاغلی اشرف غني احمدزی له آزادي راډیو سره په یوه ځانګړې مرکه کې وویل؛ که دی ولسمشر شي تر خپله وسه به هڅه وکړي چې ملي روغه جوړه رامنځته شي، هغه ددې ترڅنګ دا هم وویل چې پخواني جنګ سالاران دی پره پر غاړه واخلي. الله تعالی هر انسان ته عقل ورکړی دی او د همدې عقل په رڼا کې کولای شي چې د ښه او بد ترمنځ توپیر وکړي او حق له باطله جلا کړي، د نړۍ د کومو هېوادو وګړو چې له خپل عقل نه سالمه ګټه اخستې او د منفي سوچ پرځای یې له مثبت سوچ نه کار اخستې هغوی د ژوند په ټولو ډګرونو کې اسانتیاوې او نیکمرغي ترلاسه کړي؛ خو د کومو هېوادو وګړو چې دمثبت فکر پرځای منفي فکر کړی او حق او باطل یې سره ګډ وډ کړي هغوی کله هم دامن او خواږه ژوند له نعمته نه دي برخمن شوي.

د ښاغلي اشرف غني دا وینا چې که دی ولسمشر شي د ملي روغې جوړې د رامنځته کولو لپاره به تر خپله وسه هڅه وکړي، یو مثبت او خوشحالوونکی اړخ دی؛ مګر دا خبره یې چې پخواني جنګ سالاران دی پره پر غاړه واخلي کاملاً پاروونکې او له نفاقه ډکه ده، تر کومه حده چې موږ ته معلومه ده د جنګ سالار لفظ د جهاد د دښمنانو له خوا د مجاهدینو لپاره کارول کېږي او ددې خارښتي لفظ مخترعین پخواني کمونستان دي چې د روسانو پرخلاف د افغانستان د مسلمان ولس جهاد ته د اقتدار جنګ او د مجاهدینو مشرانو ته یې جنګ سالاران ویلي. که له جنګسالارانو نه د اشرف غني هدف پخواني مجاهدین دي؛ نو بیا خو پخپله اشرف غني او دهغه کمونستو اندیوالانو ته پکار دي چې لومړی دی همغوی د افغانستان د خرخولو او د میلیونو افغانانو د وژلو پره او ګناه پخپله غاړه واخلي او د افغانستان له ولس نه دې له خپلې دغې لویې ګناه بخښنه وغواړي، که داسې نه کوي او د ملامتۍ ګوته مجاهدینو ته نیسي چې هغوی ولې د روس یرغلګرو ځواکونو پرخلاف د خپل هېواد د استقلال په خاطر جهاد کړی؛ دا نو دا معنا لري چې کمونستان یو ځل بیا په افغانستان کې د ملي یووالي د ختمولو او د افغانانو ترمنځ د ویني تویولو پر پلان کار کوي؛ ځکه چې د مجاهدینو مشرانو او قوماندانانو ته د جنګ سالار لقب ورکول په ښرګندو ټکو کې د مجاهدینو د جهاد توهین کول دي چې نه پرون مجاهدینو ته د منلو وړ و او نه نن د منلو وړ دی، مجاهدینو پخپل سپېڅلي جهاد کې له بری وروسته له خپل وس نه زیات له کمونستانو سره له ګذشت او عفوې څخه کار واخیست، له لومړۍ ورځې نه یې ورته د عمومي بخښنې اعلان وکړ، نه یې ترینه انتقام واخیست او نه یې هم له خپل کور کلي نه وشړل؛ بلکې په عمومي ډول د ژوند په ټولو چارو کې ورسره ښه چال او چلند وکړ، د خوښۍ او غم په مراسمو کې ورسره شریک شول او خپلې انساني اړیکې یې ترینه غوځ نکړل.

دا هم د مجاهدینو د مشرانو او قوماندانانو پر ایثار، بخښنې او تیریدنې دلالت کوي چې په تېرو دوو ټولټاکنو کې دهغوی پر وړاندې هیڅ ډول خنډ جوړ نه کړ، هم یې د ولسمشرۍ لپاره ځانونه کاندیدان کړل او هم یې ولایتي شوراګانو ته، چې د تیر ځل او دا ځل په ټاکنو کې د ښاغلي اشرف غني نوماند کیدل ددې واقعیت څرګند ثبوت دی؛ مګر داسې معلومېږي چې کمونستانو ته د افغانستان د مجاهدینو دا ګذشت او مروت څه ارزښت نه لري هغوی یو ځل بیا وزرې پیدا کړي دي او دا خوبونه ویني چې د ۱۳۵۷ کال د ثور کودتا په څېر یو ځل بیا ملت دهغوی رحم او کرم ته خپل سرونه ټیټ او د خپلې خوښې ظالمانه حکومت دی وړاندې حاکم کړي. د ۱۳۹۳ کال د وري په ټولټاکنو کې د ډاکټر عبدالله عبدالله پر وړاندې د اشرف غني کمزوری پوزیشن کمونستان یو ځل بیا په سور اور وردولي او د جنون تر دې حده رسولي دي چې له ژبې او قلم نه یې د جنګ او ویني تویونې بوی راځي، محور ورځپانه چې په پرله پسې ډول د اصلاحاتو او همپالنې د ټیم مشرانو ته د جنګ سالارۍ د لقب ورکولو کوم ناوړه پروسه شروع کړی او پر ډاکټر عبدالله د اهانت لپاره یې رکیک الفاظ استعمال کړي دی، دا اصلاً ددې لپاره عملي کوښښ دی چې په افغانستان کې یوځل بیا د جګړو اور بل کړي او په دې توګه دغه ملي وحدت چې تراوسه پورې د مجاهدینو د مشرانو د صبر او زغم له برکته قایم شوي له منځه یوسي. آخر کمونستان ولې له حقایقو او واقعیتونو سترګې پټوي او په دې خبره اعتراف ولې نه کوي چې دوی او د مجاهدینو مشرانو په ټاکنو کې د ګډون له لارې دا اصل منلی چې د هېواد د زعیم د ټاکلو حق په مطلق ډول د هېواد وګړو ته ورکول شوی او هر چا چې د ولس زیاتې رایې ترلاسه کړې هغه به دهېواد ولسمشر کېږي، د مجاهدینو مشرانو تراوسه په مجموعي ډول پخپل عمل کې د ملي روغې جوړې بنسټ ټینګ ساتلی دی، نه یې دچا سیاسي حق تلف کړی او نه اقتصادي او مالي، په ولسمشریزه ټاکنو کې یو ډول په آزادانه توګه کمپاین کول او ولس ته خپل برنامه رسول په همدې حقیقت دلالت کوي چې دلته اصلاً جنګ نشته که چیرته جنګ سالاران موجود وای بیا به په ټولټاکنو کې اتو نوماندانو په ازاده فضا کې له څه تهدید پرته دومره پراخ کمپاین نه و کړی؛ خو اوس چې د اشرف غني او دهغه ملګرې پر خپل حریف د ډاکټر عبدالله پر ټیم د جنګ سالارۍ تور لګوي او پرهغوی د پره دمنلو غږ کوي، له دې پرته بل هیڅ معنی نه لري چې هغه د ملي روغې جوړې د جرړې ختمولو قصدي کوښښ کوي او پخوانیو مجاهدینو ته د جنګ سالار د لقب ورکولو له لارې دافغانستان د وګړو ترمنځ یو ځل بیا د جګړې اور بلول غواړي، ښه به دا وي چې اشرف غني او ملګری یې دجنګسالار دلفظ له استعماله په کلکه ډډه وکړي؛ ځکه چې د افغانستان وګړو د خپل دین او استقلال په خاطر جهاد کړی دی، که داسې نه کوي او د کمونستانو د وطن خرڅونې او ملت وژنې ملامتي پر مجاهدینو اچوي؛ نو لدینه چې هره فتنه پیدا کېږي مسؤولیت به یې دهمدوی پر غاړه وي.

# د هېواد په جوړولو کې د قلم ستر رول

عبیدالله صافي



د هېواد استحکام، ملي یووالي او پرمختګ لپاره هر اړخیزې مبارزې ته اړتیا ده، د هېواد هر اوسیدونکی مکلف دی چې په دې لاره کې خپله ونډه په صحیح ایمانداری او امانت سره ترسره کړي، د نړۍ په سر چې څومره پرمختللي او مخ پر ودې هېوادونه ګورو هغه پخپله د پرمختګ لوړو څوکو ته نه دي رسیدلي؛ بلکې د اولسونو په مخلصانه هلو ځلو او د شپې ورځې په مسلسلو محنتونو یې د پرمختګ پړاوونه یې وهلي دي. د هېواد د ترقۍ او ښیرازۍ مقصد د څو کسو په کار او محنت نشي کیدلای؛ بلکې د هېواد ټولو اوسیدونکو د هماهنګو ګډو هلو ځلو په نتیجه کې دا موخه ترلاسه کیدلای شي.

د نړۍ ټولو پوهانو دا منلې چې د هېواد د پرمختګ، ملي یووالي او نورو ټولو ډګرونو کې رسنۍ د ملا د تیر حیثیت لري، د کوم هېواد رسنۍ چې د سمون، اخلاق، ملي یووالي، تقوی، امانت، دیانت، تعلیم او نورو هر اړخیزو خیر ښیګڼو لپاره فعالیت کوي او ولس په نیغه لاره برابروي مثبت فکر او غښتلی روحیه ورکوي؛ نو دهغه هېواد د ژوند په ټولو ساحو او ډګرونو کې مثبت بدلون رامنځته او ولس د نیکبختۍ په لور ګامونه اخلي. له بده مرغه په افغانستان کې له ولسمشر نه نیولې تر عادي مامورو او له اوچت واعظ نه نیولی تر عادي رسنۍ پورې ټول د یو مقصد او یو هدف د تقویې پرځای پر بېلا بېلو نظریاتو او مقاصدو کار کوي. او پروګرامونه پرمخ بیایي.

کردي میز ته ناست سیاسي مشران، شنوونکي او کارپوهان په یوه خوله نه دي، ددوی د خبرو او شننو ترمنځ آسمان او ځمکه فرق وي، د سیاسي ګوندونو قائدین او نمایندګان پر یو بل تورونه لګوي، یو بل ته غله او بې ایمانه وایي، همداراز رسنۍ هم په یوه خوله نه دي، هر یو خپل خپل اهداف پرمخ وړي او هغه څه لیکي چې د اخبار تمویلوونکی ورته کوم پروګرام ورکړی وي، له بده مرغه په افغانستان کې رسنۍ ددې باوجود چې د استقلال دعوه کوي، بیا هم آزادې نه دي د هرې رسنۍ تر شا د هېواد د سیاسي ګوندونو او نورو څېرو لاس دی، ځینې خو لا له بهر نه تمویلېږي او له همغه ځایه ورته پروګرامونه ورکول کېږي، په دې هېواد کې داسې رسنۍ کمې دي چې د اولس د ستونزو ترجماني وکړي، اصلي حقایق منعکس کړي او خپل ایماني او ملي مسؤولیت ترسره کړي، د افغانستان وګړي په ابهام کې ساتل شوي په هغې تورې تیاره کې روان مسافر په څېر سرګردان دي چې لاره یې ورکه کړې او د پیدا کولو لپاره یې اخوا دیخوا منډې وهي مګر څرک یې نشي پیدا کولای. زه چې پخپله د ۳۵ کلو راهیسې د لیکوالۍ دنده ترسره کوم او له مطبوعاتو سره مې سرو کار دی د افغانستان د سیاست سر او بیخ مې نه دی پیدا کړی، دسیاسي مشرانو کړنلاره مې نه ده پیژندلې او د عام اولس په څېر زه هم د تورې شپې لارورکی مسافر یم. هر سهار د ګرانو لیکوالانو لیکنې، سرمقالې او تبصرې لولم؛ خو په ملي او بین المللي مسایلو کې همغږې نه وینم، که یو ورور له یو چانه د سرو زرو ټوټه جوړه کړې وي؛ خو بل ورور ورته مولۍ او ګازره وایي.

په دې هېواد کې نه ملي ګټې تعریف شوي او نه بین المللي، نه د افغانستان دوستان تعریف شوي او نه یې هم دښمنان، که یو جناب له کوم هېواد سره د دوستۍ اړیکی د افغانستان په ګټه بولي؛ نو بل جناب ورته سوچه کفر او خیانت وایي. ددې هېواد ډېرو علماو هم هېوادوال په ګڼو ډلو ټپلو ویشلي، په یوه مسئله کې یې ورته څو څو عقیدې او فکرونه ورکړي دي، که یو عالم ورته حلال وایي؛ نو بل یې په مطلق ډول حرام بولي، که یو ورته مستحب وایي نو بل یې فرض او واجب ګڼي. که دغه حالت همداسې جریان ولري؛ نو افغانان به له ډېر ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان کېږي او ددې پرځای چې په ملي او بین المللي کچه غښتلي شي او د ژوند په ګڼو مسایلو کې پرمختګ وکړي نور به هم په شا درومي چې په هیڅ حالت کې د افغانانو په ګټه نه دی.

الله تعالی دهر فن لپاره ځانله ځانله خلک پیدا کړي دي، که چیرته د روغتیایي چارو مسؤولیت پر ډاکترانو اچول شوی او دهغوی په هلو ځلو ټولنه له ګڼو ناروغیو بچ کیدلای شي، همداسې د ولس د صحیح رهنمایۍ او په یوه ټاکلې کړنلاره د روانولو لپاره الله تعالی د دین علماء، لیکوالان او رسنۍ ...

(۴ مخ)

# نتایج انتخابات بکدام سو...

(ادامه از صفحه اول)

اینبار اکثریت مردم که در حدود هفت میلیون تخمین زده میشوند با یک شور و شوق به پای صندوقهای رأی رفتند. این اشتراک از خود یک پیام روشن داشت که مردم دیگر از وضع فعلی خسته شده اند باید مردم دیگر شاهد اصلاحات و همگرایی باشند، باید شاهد یک تغییر مثبت باشند و ضمناً به دستهای غرض آلود بیرونی هم ثابت ساختند که ما یک ملت زنده هستیم و ما میتوانیم بدون همکاریهای غرض آلود بیرونی، خود در مورد سرنوشت خود تصمیم بگیریم.

البته ما نمیگوییم که تخلفات و تقلبات ارزیابی نشود، باید دقیقاً ارزیابی شود: ولی بنام ارزیابی آرا با رأی پاک مردم هم بازی صورت نگیرد. آرای باطل شدهٔ مردم هرات مثال خوبی است، تا جایی که دیده میشود که این آرا به اثر شکایاتی هم باطل نشده است که قانوناً باید باطل میشد. تیم اصلاحات و همگرایی چشم براه آرای واقعاً باطل نیست: ولی از آرای مشروع خود که در صندوقهای رأی ریخته شده است جداً دفاع قانونی خواهد کرد و بدستهایی که عمداً بخواهند انتخابات را به دور دوم بکشانند اجازه نخواهد داد و تیم اصلاحات و همگرایی این را حق مشروع خود میداند. اگر چشم پوشی در میان نباشد، کمیسیون محترم انتخابات میداند که کی برنده است و کی بازنده. تیم اصلاحات و همگرایی هنوز هم برین باور است که نتیجهٔ انتخابات در همین دور اول روشن شود و گپ به دور دوم کشانده نشود: ولی اگر دستهایی عمداً دست بچنین اقداماتی بزنند این تیم در چوکات قانون از حقوق خود دفاع خواهد کرد. البته هستند کسانی که علاقه مند کشاندن انتخابات به دور دوم هستند. ملت آنچنان که با علاقه مندی در انتخابات شرکت کرد. پروسهٔ شمارش آرا را هم به دقت تعقیب میکند، اگر دید که آرایش ببازی گرفته شود از حقوق خود دفاع خواهد کرد. اگر نتایج در دور اول مشخص شود از هر لحاظ به نفع ملت خواهد بود و اگر این پروسه بصورت عمدی و غیر طبیعی به دور دوم کشانده شود باید زیانهای آن درنظر گرفته شود. باید پیغامی که انتخابات با خود داشت قابل درک باشد بخصوص برای مسؤولین.

بهرحال افغانستان به یک حکومت قانونی و نیرومند نیاز دارد، متأسفانه در سیزده سال گذشته دستهای مرئی و غیر مرئی نگذاشتند که افغانستان صاحب یک حکومت کاملاً بپای خود ایستاده شود، از یکسو تساهلات پی در پی که از سوی مسؤولین دولتی خود ما صورت میگرفت و از سوی دیگر دستهای غرض آلود اجانب نگذاشت ما راه پیش روی خود را بصورت طبیعی طی کنیم. ما دو دور انتخاباتی ریاست جمهوری را پشت سر گذاشتیم و اکنون برای دور سوم هم انتخابات صورت گرفت که مردم ما بی صبرانه منتظر نتایج نهایی آن اند. اینبار باید حکومت آینده بتناسب دو دور گذشته شایستگی خود در خدمت بمردم را ثابت کند و این کار زمانی ممکن است که ما یک نظام نیرومند داشته باشیم. مشکل اساسی جامعهٔ افغانی نداشتن یک نظام نیرومند است. منابع مربوطه اخبار کردند که پنجاه در صد سرمایه گذاری در افغانستان کاهش یافته است که بدون شک این خبر خوش برای اقتصاد کشور ما نیست. هکذا قیمت افغانی هم در برابر دالر و هم روپیهٔ پاکستانی که این دو نوع پول بیشتر مورد استفاد مردم بخصوص در امر خرید و فروش است، تنزیل یافته است.

نباید با آرای مردم بازی یی صورت گیرد که خدا نخواسته مشروعیت دولت آینده را تحت سوال ببرد، درست است که ما بکمک های بی شائبهٔ جهانیان نیاز داریم. افغانستان یک جنگ سه و نیم دهه را پشت سر گذاشته و هنوز هم از هر سو صدای بم و باروت را می شنویم و این حالت ایجاب میکند که کشورهای جهان با افغانستان کمکهای بیغرضانه بکنند؛ ولی در اخیر ما باز هم به یک دولتی نیازمند هستیم که در نتیجهٔ آرای ملت بمیان آمده باشد و ملت از آن دفاع نماید و همکار آن باشد.

اگر خدای نخواسته آرای مردم ببازی گرفته شد، دستهایی که در چنین یک امر دخیل شوند حتماً قابل درک است و ملت حتماً حق خود را خواهان خواهد بود.

پس انتظار ملت این است که رأی پاک آنها که حق مسلم شان است ببازی گرفته نشود و زمینه برای تیرگی فضا مهیا نگردد و تا جایی که ممکن است باید نتایج آرای پاک به صندوق افتاده مردم هر چه زودتر اعلان شود.

## انتخابات

# چالشهای فرا راه جوانان ما

فروهنگر

**نخست رفع یک اشتباه:**
تعدادی از برادران ما می پندارند که واژه یا لغت «چالش» از پرداخت های زبان شناسان غیرافغانی است و استعمال آن در ادبیات دری را بی مورد می دانند! مع الاسف، درین مورد اشتباه کرده اند! زیرا چالش، چال و چالیدن، مصادر جعلی یی است که از زبان ترکی وارد زبان دری و فارسی شده است، مانند: توخت، تاخت و تاز وغیره که این کلمات حتی در لهجه های محلی افغانستان نیز رایج است.

افغانستان؛ زادگاه ما کشوری است که تقریباً پس از چهار دهه نسلی را در آغوش خود به پرورش گرفته است که از تاریخ بیست تا سی سال گذشته فاقد هرگونه معلومات اند و اسلاف شان نیز نکوشیده اند که اوضاع تلخ، وحشتناک و تکان دهنده آن زمان را به آنها روایت کنند و در پهلوی این روایات دلایل این همه تلخ کامی ها و وقایع توأم با تباهی و بربادی را به آنها شرح دهند. به همین دلیل می بینیم که بیشتر جوانان ما، حتی آنهایی که در مقام اخیر جوانی قرار دارند و سن شان رو به سقوط از ۴۰ سالگی به ۴۱ سالگی است، از وضع نابسامان اجتماعی، سیاسی، اقتصادی و اخلاقی ۱۳ گذشته سخت متاثر شده اند، درین شکی نیست که ما در ۱۳ سال گذشته در کنار کمبودی ها و مشکلات دیگر سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و اخلاقی شاهد رشد بهتر تعدادی از پدیده هایی بودیم که در سازنده گی جوانان ما نقش سازنده دارد، اما فساد گستردهٔ اداری، اخلاقی، اجتماعی و سیاسی و نبود کار و سرگرمی یک نوع شگاف عمیقی را در روند روانی جوانان ما شکل داد که احیاناً جبران ناپذیر می نماید؛ به فرض مثال آنها در صنوف درسی تا سطح لیسانس و ماستری طوری تلقین شده اند که هرگاه حرفی از باورهای دینی و نقش اعتقادات دینی به میان آید، فوراً واکنش نشان می دهند و افراد انگشت شماری را نشان می دهند که دین به دنیا فروختند و با نمایش کاذب معنویت به ثروت های هنگفت مالی دست یافتند، تا توانستند، آدم کشتند، آدم ربودند و در قاچاق مواد مخدر و احجار کریمهٔ کشور، قطع جنگل های ملی و غصب ملکیت های شخصی و ملی ید طولا داشتند و هنوز دارند، این نسل فاقد سواد باورهای دینی و تاریخی کشور این همه نابسامانیها را ریشه یابی نمی کنند، سوابق این افراد را که اکنون نامهای شان به کتب نیز راه یافته است و چهره های آلوده به خیانت و جنایت شان به همه افشا شده است، جستجو نمی کنند، وابستگی آنها را نادیده می گیرند و حتی تعداد بیشتر این جوانان با آن که از هواداران همین جنایتکاران تاریخ افغانستان شمرده می شوند؛ ولی در واکنش به مطرح نمودن مسأله یی که به آن اشاره شد، چنان استدلال می کنند که اسلام یعنی «گفتار و پندار و کردار و نقش احمد و محمود و یا خالد!» حکومت اسلامی یعنی تروریزم بین المللی و چند چهرهٔ انتحاری یی که اثری از این دین نجات بخش بر سیمای آنها دیده نمی شود... «که به خدا پناه می برم از این گونه برداشت ها و پندارها».

می پذیریم که رهبری جنبشهای اسلامی در کشور باید بازسازی شود، اما این طرز تفکر ابداً قابل پذیرش نیست که جای اسلام را دیموکراسی نام نهاد غرب که تا حال تعریف سمبولیک و عملی آن در میان میلیون ها خروار، فقط کلمات مغشوش شده است و شکل عملی آن در سیاست کشورهای استعمارگر خلاصه می شود، بگیرد و یا ناسیونالیزمی که سرانجام به حکومت سوسیال دیموکراتیک پلهٔ عروج به سوسیالیزم غربی منتهی می شود... و یا هم سوسیالیزم و کمونیزم روسی و چینی که در دهه هشتاد قرن بیستم هم از لحاظ ایدیولوژی و هم از ناظر تشکیلات سیاسی و مدیریتی از هم پاشید که امروز بلاکی به نام سوسیالیزم و کمونیزم را در جهان سراغ نداریم...

در غیر آن:

نسل جوان ما، اگر تاریخ دو دههٔ گذشته را مطالعه کنند می دانند که کلاً غرب با حکومت های منتخب اسلامی الجزایر، سودان و مراکش چه معامله کرد. در لیبیا چه می کند و در عراق چه گل هایی را به آب داد که تا امروز آتش و خون بر زندگی آنها سایه افگنده است و عملاً آن کشور به گروههای مذهبی تجزیه شده است. آتشی که امروز در سوریه زبانه می زند در افروختن آن کدام دست کار می کند و همین اکنون، این خشونتهای به سطح تمام کشور را که دامن می زند و چرا دامن می زند؟

پاسخ این سوال روشن است:

غرب در افغانستان، شرق میانه و کشورهای دیگر جهان عملاً ثابت نمود که راه حل مسایل جهانی ایدیولوژی ندارد، استراتیژی ندارد، فاقد هر گونه راهکار سیاسی است و در هر گوشه و کنار جهان می خواهد با استفاده از اعمال زور و کاربرد اسلحه، فقط سیاست خود را عملی کند.

جوانان ما علاوه ازین که باید در رابطه به بازسازی رهبری اسلامی و تاریخ چهار دهه گذشته در جریان گذاشته شوند، خود مکلفیت دارند که با توجه به سرخوردگی ها، کمبودی ها و خلاهای سیاسی، اجتماعی، اقتصادی و اخلاقی کشور خود، دیگر ازین حالت عدم احساس مسؤولیت و تکلیف خارج شوند و بر بزرگان، دانشمندان، استادان و طبقهٔ روشنفکر مسلمان کشور است که جوانان ما را درین راه یاری دهند. باید یادآوری کنم که جوانان ما از کدام نواحی ضربه پذیر هستند تا خود جوانان و بزرگان جامعه بخصوص مسؤولان خانواده ها، با درنظرداشت این منافذ بسوی سازندگی گامهای مؤثر بردارند:

* وسایل ارتباط جمعی
* محیط تعلیم و تربیه و تحصیلات عالی
* محیط خانه و اصلاح در خانواده ها
* اصلاح و تطبیق قانون اساسی در تشکیل خانواده و ازدواج
* توجه به محیط کار و شغل یابی
* ترویج فرهنگ ارتباط جمعی سالم بخصوص مطبوعات
* ترویج فرهنگ مطالعه و تاسیس کتابخانه ها و تشویق جوانان به آن
* ترویج اداب پیش آمد مرد و زن در جامعه

پس از آن می توان با تشکیل حلقات رهبری و تشکل جوانان و هم چنان بازسازی نهضت اسلامی در کشور و طرد افکاری که با اسلام رابطه یی ندارد راه را برای تربیهٔ نسل جوان تدارک دید.

# د قرآنکریم په هکله په زړه پورې لنډ معلومات

الحاج بختیار

د علیم او مهربان الله جل جلاله ډېر شکر او احسان منو چې پخپل لوی فضل او کرم يې زمونږ مؤمن او مسلمان ملت د سرو لښکرو دهغه ناتار، ربړونو، کړاوونو او بې رحمانه بمباردونو او وژنو وژغورلو او د ملک او وطن دولتي اختیارات او اعتبارات يې را په برخه کړل، پدې کې هېڅ شک نشته چې د سرو او تورو لښکرو او لښکریانو له مهم او پیاوړو اهدافو یو دا و، او دی چې د الله جل جلاله دا منلی او قیمتي دین او اسلام چه زمونږ مسلمانانو د دواړو جهانو «دنیا او آخرت» د سرلوړی او بري وجه ده زمونږ د متدین او با غیرته وګړو او ځوان نسل له مغزو وباسي او کفري او الحادي عقیدو ته مو وهڅوي: خو نتیجه هغه ده او وي به چې الله جل جلاله غواړي او اراده يې فرمایي: نو دا دی چې له کفري ټولو هڅو سره سره زمونږ ټولی پرګنی او وګړی، علما، پوهان، روحانیون، نر او ښځې او په خاصه توګه ځوان نسل ان تر دې چې زمونږ هغه کوچیان وروته او خوېندی چې د غرو په لمنو کې ژوند کوي خپل دین او اسلام له ټولو دنیوي ښیګڼو غوره بولي او عمل پرې کوي، دارنګه ویاړ لرو چې همدا اوس د عزیز دین په هره برخه کې ژورې څېړنې، لیکنې، ویناوې کېږي، دیني او اسلامي فرهنګ پراختیا مومي، دیني مدارس جوړېږي، په مساجدو او مکاتبو کې د قرآن عظیم او احادیث مبارک تعلیم، ترجمه او تفسیر کېږي.

نو دا دی ما هم خپل مات قلم راواخیست او د فرهنګ پوهانو او ادیبانو په چوپړ کې ولاړ او غواړم د اسلامي فرهنګ مینه والو ترڅنګ لږ څه د سپیڅلی کتاب «قرآنکریم» په هکله ده، درنو او عزتمنو لوستونکو ته معلومات وړاندې کړم:

۱- قرآنکریم د الله جل جلاله کلام او د انس او جن د هدایت او لارښوونې لپاره په (۲۳ کاله او پنځه میاشتو) کې د جبرائیل امین په ذریعه پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازل شوی دی.

۲- قرآنکریم د (ب) توري پیل او د (س) په توري پای مومي.

۳- قرآنکریم لومړی وحي پر ۶۱۰ ز کال پر حضرت محمد صلی الله علیه وسلم نازله شوه.

۴- د قرآنکریم زیاته برخه د شپې لخوا نازله شوی.

۵- د قرآنکریم لومړنی حکم «اقراء» ولوله دی.

۶- د قرآنکریم د توبې سورت په پیل کې بسم الله نشته.

۷- د قرآنکریم د نمل په سورت کې بسم الله دوه ځله راغلی ده.

۸- بسم الله د لومړي ځل دپاره حضرت سلیمان (علیه السلام) ولیکله.

۹- په قرآنکریم کې (۱۱۴) ځله بسم الله راغلی ده.

۱۰- په قرآنکریم کې د المجادلی سورت په ټولو آیتونو کې د الله جل جلاله ذکر شوی.

۱۱- په قرآنکریم کې د جناب محمد صلی الله علیه وسلم نوم څلور ځله راغلی. لومړی د آل عمران سورة په (۱۴۴) آیت کې، دویم د احزاب سورة په (۱۴۰) آیت کې، دریم د محمد په سورة (۲) آیت کې او څلورم د فتح سورة په (۲۹) آیت کې.

۱۲- په قرآنکریم کې د احمد نوم یو ځل راغلی دی په (۲۸) پاره په الصف سورة په (۶) آیت کې.

۱۳- په قرآنکریم کې تر ټولو زیات کارول شوی توری (الف) او تر ټولو کم کارول شوی توری (ظ) دی.

۱۴- د قرآنکریم لومړنی کتابت حضرت خالد بن سعید بن ابی العاص کړی دی.

۱۵- د قرآنکریم آیتونه لومړی ځل حضرت ام المؤمنین بی بی عایشی (رض) شمارلی دی.

۱۶- قرآنکریم پر (۳۱۸) هـ کال په نسخ خط ولیکل شو.

۱۷- په قرآنکریم کې الله جل جلاله پر خپل ذات (۷) ځله قسم یاد کړی.

۱۸- په قرآنکریم کې د آسماني اجرامو څخه یوازې د لمر، سپوږمۍ، او ستورو یادونه شوی.

۱۹- په قرآنکریم کې له کیمیاوی عناصرو څخه یوازې د سرو، سپینو زرو او اوسپنی یادونه شوی.

۲۰- په قرآنکریم کې د میاشتی نوم «شهر» (۱۲) ځله راغلی، چې یو کال کېږي، کال، میاشت او ورځ د قرآنکریم له مخې تاکل شوی دی. په همدې بڼه د ورځې نوم (یوم) ۳۶۰ ځله راغلی چې یو کال کېږي.

(نور بیا)

# شهادت
اونیزه
د حزب اسلامي افغانستان مرکزي ارګان

خپرونکی اداره: د حزب اسلامي افغانستان فرهنګي څانګه
د امتیاز خاوند: حزب اسلامي افغانستان
مسؤول مدیر: عبدالله "کامه وال"
مرستیال مدیر: عبدالخلیل "خلیل"

د اړیکو شمیرې
دفتر: ۰۲۰۲۵۲۱۲۳۲
مسؤول مدیر: ۰۷۷۷۲۰۲۲۰۱
۰۷۰۰۲۰۲۲۰۱

• د شهادت اونیزه د هر لیکوال او د نظر خاوند د لیکنو هرکلی کوي
• د شهادت اونیزه حق لري چې د لیکوال لیکنه د ضرورت په وخت داسې اصلاح کړي چې د لیکنې اصل روح ته تاوان ونه رسي
• رالیږل شوي مطالب نه مستردیږي. یوازې سرلیکنه د شهادت د اونیزې رسمي نظر دی

ډیزاین: خواجه وحیدالله | آدرس: دحزب اسلامي افغانستان مرکزي دفتر، د شاداب ظفر بلاکونو شاته، خوشال خان مینه - کابل | Email Add: shahadatnews.kabul@gmail.com




## افغانستان د نړۍ په رسنیو کې

### ګارډین: د ګوانتانامو د زندانیانو برخلیک به څه وي؟

بریتانوي ګارډین ورځپاڼې په افغانستان کې د ناټو په مشرۍ د نړیوالو ځواکونو د محارب ماموریت له پای ته رسیدو سره د ګوانتانامو د زندان د بندیانو د برخلیک او امریکایي کریسچین ساینس مونیتور ورځپاڼې هم د دغې جګړې د افغان ژباړونکو د برخلیک پر مسالو لیکنې خپرې کړې دي.

ګارډین لیکي، معمولا کله چې جګړه پای ته رسیږي، ورسره د جګړې د لوري دا صلاحیت هم پای ته رسیږي چې نور نه شي کولای د بل لوري وسله وال له ځان سره وساتي، خوا په داسې حال کې چې په افغانستان کې د امریکا جګړه مخ په ختمیدو ده، داسې بریښي چې د ګوانتانامو د زندان بندیان به له دې استثنا وي، چې د ورځپاڼې په وینا دا به د اوباما د اداري هغه هڅې نورې هم پیچلي کړي چې غواړي د جګړې د وخت دغه بدنامه زندان وتړي. ګارډین لیکي، په ډسمبر میاشت کې چې کله بارک اوباما او د هغه د ناټو متحدین رسما په افغانستان کې محارب ماموریت پای ته رسوي، امریکایي چارواکو داسې نښې ښودلې، چې ګومان نه کیږي، د ګوانتانامو د زندان بندیان به چې د امریکا د اوږدې جګړې په جریان کې نیول شوي، خوشې شي.

د ورځپاڼې په وینا د اوباما د اداري ورروستی کورنی بحث هم پر همدې مسالې څرخیده چې په نتیجه کې یې د امریکا د زندانونو د راتلونکې پالیسې په اړه پراخ بحث راپورته شو. د ګارډین ورځپاڼې له دې لیکنې سره سم، په افغانستان کې د اکثرو زندانونو مسولیت اوس افغان امنیتي ځواکونو ته سپارل شوی خو د شاوخوا پنځوسو بندیانو سرنوشت چې د بهرنیو هېوادونو اتباع دي، تر اوسه د امریکا په لاس کې دی. دا نه ده څرګنده چې له ډسمبر میاشتې وروسته به د دغو بندیانو برخلیک څه کیږي. پردې سربیره د امریکا تر ولکې لاندې په ګوانتانامو زندان کې هم تر اوسه پورې ۱۵۴ بندیان ساتل کیږي چې ۱۴ یې افغانان دي.

د ورځپاڼې په وینا یو شمیر دغه افغان بندیان چې د القاعده د غړیتوب شک پرې نه کیږي بلکه د طالبانو په شک یا ورسره د ترلو ډلو سره د تړاو په تور نیول شوي، هغه ډله بندیان دي چې په ډسمبر کې د امریکا د جګړې له پای ته رسیدو سره نور به رسما دا هېواد د هغوی له لوري سره په جګړه کې ښکیل نه وي.

ګارډین لیکي، د لړ تر لړه پنځو تنو د خوشې کیدو مساله په هغې معامله کې مطرح شوې ده چې له طالبانو سره د یواځیني برمته شوي امریکایي عسکر باو بیرګدال د خوشې کیدو په بدل کې له ګوانتانامو څخه د خوشې کیدو لپاره په پام کې نیول شوي وه. یوشمیر وکیلانو او پخوانیو امریکایي چارواکو ګارډین ته ویلي، چې په افغانستان کې د امریکا د جګړې له پای ته رسیدو سره سم دغه ۱۴ بندیان هم باید خوشې شي.

امریکایي کریسچین ساینس مونیتور ورځپاڼې بیا د دغې جګړې پر یوې بلې ډلې چې په غیر مستقیم ډول په جګړه ښکیل و، د افغان ژباړونکو د برخلیک پر موضوع یو مطلب خپور کړی دی.

### د هېواد په جوړولو کې...

... مؤظفې کړې دي.

په انساني ټولنه کې د علم او قلم لوی ارزښت دی، هغه اشخاص چې له دغه لوی نعمت برخمن شوي دي پر هغوی د الله تعالی لوی احسان دی او دا مسؤولیت یې ور په غاړه کړی چې خپل دغه علم او استعداد د اولس د لارښوونې لپاره وقف کړي. فلهذا زه خپلو ټولو علمای کرامو او لیکوالانو وروڼو ته د خپل دیني او ملي مسؤولیت له مخې بلنه ورکوم چې خپل دغه الهي فضل او علمي استعداد د اولس د اتفاق، د قانون پر لاسي، د حق او عدالت د تأمین، د هېواد د استحکام او پرمختګ لپاره وقف کړي، ددې پرځای چې د څو روپو او اقتدار په خاطر خپل ایمان او ضمیر خرڅ کړي د خپل هغه پالونکي ذات رضا ترلاسه کړي چې د علم او پوهې لوړینه یې ورباندې کړې. زموږ قلم او ژبه زموږ د هېواد تقدیر په بدلولو کې ښتیز نقش لري، کوم قوت چې الله تعالی په علم او قلم کې ایښی په بل هیڅ څیز کې نشته. زموږ د افغانستان حالت د ۱۴۰۰ کاله وړاندې د جهالت له ژوند نه په مراتبو بنه دی، که چیرته همدغه علم او قلم په هغه زمانه کې خلک د جهالت له توري تیارې نه وویستل او د یو بل سرسخت دښمنان او قاتلین یې په یو منظم عقیدوي صف کې ودرول؛ نو له سهولتونو ډک په اوسني وخت کې د علم او قلم خاوندان لږ تر لږه خپل وګړي څنګه له بې اتفاقي او افتراق له تورو تیارو نه نشو ویستلای؟!

که موږ په واقعي معنا خپل ایماني او ملي مسؤولیت ته متوجه شو او خپل اړیکي خالص له الله سره ټینګ کړو؛ نو زموږ د پاکو ارادو په وړاندې هیڅ راز خنډ نشي راتلای او کامیابي به خامخا زموږ استقبال کوي. لیکوالان، رسنۍ او علماء د هېواد هغه سترګې دي چې ښه او بد دواړه پرې وینې، په هر ګوټ او په هره اداره کې چې کوم اخلاقي او عقیدوي فساد سر اوچتوي دغه له خطرناکو عواقبو نه د اولس خبرولو مسؤولیت همدوی ته متوجه کیږي؛ ځکه خو اولس هر وخت اخبار، رساله، راډیو، ټلویزیون او علماو خولې ته ګوري او د همغوی له لارې خبریدل غواړي. که چیرته علماء او رسنۍ په واقعي معنا د خپل دین، اولس او هېواد د ګټو په نظر کې نیولو سره خپل اولس ته ښه رهنمایي وکړي، د حق او باطل د یو ځای کولو پرځای د دواړو ترمنځ څرګند فرق وکړي؛ نو له څه شک پرته ملت له اوسنیو تورو تیارو او مبهمو حالاتو څخه راوېستلای او په نیغه لاره روانولای شي.

د قلم او علم خاوندان اصلاً له بل هر چانه زیات تر ازمېښت لاندې دي او الله تعالی به د قیامت په ورځ له دوی سره سخت حساب او کتاب هم کوي چې خپل رسالت یې ولې نه دی پوره کړی؟

راځئ نور د قومیت، ژبې او اقتدار بتان مات کړو، د کوم ځانګړي قوم، ژبې، سمت او د چا د څوکۍ د پرستش پرځای یوازې او یوازې د یو الله بنده ګي او پرستش وکړو، او خپل هغه ایماني مسؤولیت ترسره کړو چې الله تعالی د مسلمان ولس د یووالي، د عدل او انصاف د قیام او پخپلو کې د ورورۍ د اړیکو د ټینګولو چاري یې زموږ پر اوږو اچولې دي.

نه یوازې د قلم خاوندان، علماء او رسنۍ د هېواد، اولس او پرمختګ د دښمنانو د اهدافو د تکمیل آله وګرځي او د څو ناچیزو پیسو په بدل کې خپل پاک ضمیر او ایماني مسؤولیت په اوبو لاهو کړي؛ بلکې پوخ عزم دې وکړي چې د خپل قلم او علم سپېڅلتیا په تمامه معنی محفوظ، او صرف او صرف به د اولس د سالمې رهنمايي لپاره استعمالوي او په دې توګه به د افغانستان اولس ته یوه ښه راتلونکې ډالۍ کوي.

### د ټاکنو کمیسیون د ۴۹,۶۷ ...

په لاس راوړي دي او په لومړي سر کې ځای لري. د هغه په وینا اشرف غني احمدزي د ۳۳,۲ سلنه رایو په ګټلو سره دویم ځای او زلمي رسول د ۱۰,۴ سلنه رایو په ګټلو سره دریم ځای خپل کړی دی.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون د شمیرو له مخې، د شمیرل شوو پنځوس سلنه رأیو څخه عبدالرب رسول سیاف ۷ سلنه، قطب الدین هلال ۲,۷ سلنه، محمد شفیق ګل آغا شیرزي، ۱,۶ سلنه، داوود سلطانزوی ۰,۵ سلنه او هدایت امین ارسلا ۰,۲ سلنه رای ګټلې دي.

خو د ټاکنو خپل کمیسیون مشر دا هم وویل چې د پنځوس سلنه د پایلو اعلان په دې معنی نه دی چې دقیقا د هر ولایت پنځوس سلنه رایې شمیرل شوي دي، بلکې په وینا یې د یو شمیر ولایتونو د پنځوس سلنې څخه زیاتې او د یو شمیر ولایتونو بیا د ۵۰ سلنې څخه کمې رای شمیرل شوي دي.

د ټاکنو د خپلواک کمیسیون مشر په خپلو خبرو کې وړاندې وویل چې د رای اچونې ۱۰۸۶ محلونه مشکوکه بریښنا او د هغې په اړه څېړنې شوي دي. د هغه په وینا د ټاکنو د کمیسیون غړو د رای ورکولو دغه مرکزونه تر څېړنې لاندې نیولي دي. په پای کې د کمیسیون مقاماتو پریکړه وکړه چې د ۶۶۶ مرکزونه رای له سره وشمیرل شي او دغه مرکزونه د ټول افغانستان په سطحه دي.

د نورستاني په خبره د قسمي پایلو بله برخه به په راتلونکو ورځو کې اعلان شي: "هڅه کوو چې د ثور/غوايي میاشتې پر څلورمه نیټه د ټاکنو لومړنۍ پایلې اعلان کړو."

هغه په خپلو خبرو کې وړاندې وویل د رای یا شمیرل او څېړنه د رسنیو او محترمو نوماندانو د استازو په حضور کې ترسره کیږي: "خپل خوږ ملت ته بیا هم ډاډ ورکوو چې د ټاکنو خپلواک کمیسیون خپله بې طرفي او خپلواکي ساتلې ده او پاکې رای له ناپاکو بیلوي."

له دې سره سره چې د ټاکنو کمیسیون د پنځوس سلنه رایو قسمي پایلې اعلان کړې، خو ویې ویل چې د کمیسیون له لوري د دغو رایو بررسي او شمیرلو وروسته د ټاکنیزو شکایاتو کمیسیون ته استول کیږي.

په عین وخت کې ټاکنیزو کمیسیونونو ویلي دي چې د افغانستان په څلورو ولایتونو کې یې (ډیر شمیر صندوقونه) قرنطین او باطل شوي دي. په دغه جمله کې په هرات ولایت کې ۱۰۰ زره رایې باطلې شوي دي.

د ټاکنیزو شکایتو کمیسیون ویلي دي چې شکایتونو ته رسیدګي کولای شي، د ټاکنو پر پایلو اغیز واچوي. د ټاکنو کمیسیون هم ویلي دي شکایاتو ته رسیدګي د کولای شي دغه سلنې ته تغیر ورکړي.

### عربستان سعودی با پروسه ...

نقش مهم را بازی کند.

آقای مستغنی گفت، این ملاقات دو روز قبل در کابل صورت گرفته است.

پیش از این شورای عالی صلح گفته است که آنان در قسمت تامین صلح به حمایت و تلاش کشور های اسلامی مانند عربستان، ترکیه و امارات متحده عربی نیاز دارند.

حدود سه ماه قبل سعود الفیصل وزیر خارجه عربستان سعودی در جریان سفرش به پاکستان با مقامات آن کشور در خصوص مسأله صلح افغانستان گفتگو نمود.

یگانه امیدواری حکومت افغانستان بخاطر برقرار شدن تماس ها با طالبان مسلح، آغاجان معتصم یک مقام پیشین طالبان می باشد که چند پیش در امارات متحده عربی نظربند گردید.

### آغاجان معتصم نظر بند نه ...

ویلي یې وي، زه د طالبانو د مشرلۍ هدایت پرته کار کوم؛ ده چې همیشه خبرې کړې ویلي یې دي، چې زه د هغه استازیتوب کوم، موږ بیرته له ده سره په تماس کې کیږو؛ چې اراده یې څه ده، موږ نه یوازې له اغاجان معتصم بلکې د طالبانو له نورو مشرانو سره هم خبرو ته چمتو یو؛ ترڅو داسې جوړجاړې ته ورسیږو؛ چې په افغانستان کې د تل لپاره د جګړې اور ختم شي."

له دې وړاندې داسې راپورونه خپاره شول، چې آغاجان معتصم د کابل په هوایي ډګر کې لیدل شوی او په یوه تور شیشه یې او یې پلیټه موټر کې نامعلوم ځای ته انتقال شوی؛ خو معصوم ستانکزي دغه راپورونه نه تایید او نه رد کړل.

آغاجان معتصم د طالبانو د وخت د مالیې وزیر او په وروستیو کې په کوټه کې د طالبانو د سیاسي کمیټې مشر و؛ خو په کوټه کې له ټپي کېدو وروسته د درملنې لپاره ترکیې ته انتقال شو او په دې وروستیو کې له افغان حکومت سره د سولې خبرې پیل کړې وې.

شاوخوا یوه میاشت وړاندې د سولې عالي شورا خو غړیو په دوبۍ کې د آغاجان په مشرۍ له یوشمیر پخوانیو طالب مشرانو سره خبرې وکړې.

تیره اونۍ د افغانستان د بهرنیو چارو وزارت وویل، چې معتصم په دوبۍ کې د پولیسو له خوا نظر بند شوی دی.

خو د سولې عالي شورا د دارالانشا مشر وایي، نوموړی نظر بند نه بلکې د دوبۍ د پولیسو له خوا د دې لپاره یوه خوندي ځای ته انتقال شوی و؛ چې ژوند ته یې ګواښ متوجه و.

معصوم ستانکزي له ازادي راډیو سره په خبرو کې ونه ویل چې؛ کومې ډلې اغاجان معتصم ته ګواښونه کول.

"ښاغلي معتصم د یو څه وخت لپاره د سولې لپاره کوښښونه پیل کړي وو؛ چون د غه هلې ځلې ګړندۍ شوې وې؛ د هغه ځای مقاماتو ته داسې راپورونه ورسېدل چې؛ د ده ژوند ته خطر متوجه دی؛ نو پولیسو یوه محفوظ ځای ته انتقال کړی و؛ اوس زما د معلوماتو په اساس کاملا ازاد دی؛ موږ خوشحاله یو چې دی په خپل وطن کې ژوند وکړي."

افغان چارواکو او کارپوهانو له دې وړاندې ویلي؛ چې د پاکستان استخباراتي کړي په افغانستان کې د سولې د ګډوډولو هڅې کوي او هر هغه څوک وژني یا زنداني کوي چې د سولې لپاره د زړه له تله هڅه کوي.

دوی د خپلې دې ادعا لپاره مولوي عبدالرقیب د یوه ثبوت په توګه راوړي، چې د سولې مینه وال وو او څه موده وړاندې په پاکستان کې د نامعلومه کسانو له خوا ووژل شول.

### امریکا روی تعلیق همکاری ...

شبکه توزیع شمال باهم همکاری نکرده بلکه در خصوص مبارزه با قاچاق مواد مخدر نیز با یک دیگر همکاری دارند.

بر بنیاد صفحه انترنت سفارت امریکا در ازبکستان، ایلین اوکنر در جریان بازدید از این کشور هم چنان گفت که امریکا و روسیه و سایر کشور ها در منطقه علاقه مند ثبات و صلح در افغانستان اند.

وی گفته است که ایالات متحده می خواهد به طور متداوم با کشور های منطقه به هدف پیشرفت و انکشاف این کشور ها با توجه به علایق و خواست آنها کار نماید.

وزارت خارجه ازبکستان جمعه گذشته میزبان نشست مقامات ارشد شماری نهاد های دیپلوماتیک ایالات متحده به رهبری ایلین اوکنر بود.

در این اجلاس که در شهر تاشکند برگزار شد دیپلومات های امریکایی از سفارت های ایالات متحده مقیم ازبکستان، چین، روسیه، هند، پاکستان، افغانستان، قزاقستان، تاجکستان و قرغزستان شرکت داشتند.

وزیران خارجه کشور های عضو ناتو در نشست اخیر شان در اوایل ماه اپریل در بروکسل اعلام کردند که همکاری های ملکی و نظامی با روسیه را به حال تعلیق در می آورند.

این تصمیم از سوی ناتو در عکس العمل به الحاق کریمیا با روسیه و دخالت نظامی این کشور در اوکراین اتخاذ شد.

اما سپس اندرس فوگ راسموسن منشی عمومی ناتو ابراز امید واری کرد این فیصله بر همکاری های مشترک میان ناتو و روسیه در افغانستان تاثیر منفي بر جا نگذارد.

### د۶۳۵ مرکزونو او ۱۳ محلونو ...

د۶۳۵ مرکزونو او ۱۳ محلونو رایې باطلې اعلان کړې؛ چې له دې جملې څخه د ۳۸ قضیو د استیناف غوښتنه کړې."

د انتخاباتي شکایتو کمیسیون وایي؛ هغه رایې چې باطلې اعلان شوې په پنجشیر، بامیان، پکتیا، پکتیکا، خوست، بدخشان، تخار، بلخ او هرات ولایتونو پورې اړه لري.

ښاغلي محسني وویل، په ولایتونو کې د شکایتونو څېړلو پروسه پای ته رسېدلې؛ خو په مرکز کې د هغوی قضیو دعوه ادامه لري چې؛ د استیناف غوښتنه یې شوې ده.

"د یکشنبې له ورځې وروسته د ولایاتو کمیسیونونه فیصله نه شي کولای؛ د هغو قضیو په اړه چې اوس هم شته که په الف کته ګوری که بې او که په ج کته ګوری کې دي؛ د تفتیش او له سره شمېرلو حق لري؛ فیصله به یې مرکزي کمیسیون ته پریږدي."

له دې نه وړاندې هم دانتخاباتي شکایاتو کمیسیون ویلي وو چې؛ دوی ته د سپارل شویو مستندو شکایتونو له جملې څخه ۸۹۰ مورده یې د دې کمیسیون د طرزالعمل مطابق به لومړی کته ګوری کې ځای لري.